د افغانستان پالیسي جوړوونکې دوره

نیټه: ۳۰/جوزا/۱۴۰۵ ل /۱۴۴۸/محرم/۵
لیکوال: استاد نوراحمد قران مل
موضوع: تاریخي څېړنه

سریزه

د وخت پېښې د تاریخ د اومو موادو حیثیت لري، چې کله په څېړنه او تدقیق سره وپېیل او واوډل سي، نو د تاریخي پېښو داسي انځورونه راتلونکو نسلونو ته پرېږدي، چې په لوست او مطالعه سره پر ماضي کړنو پریکړه کوي او د راتلونکي لپاره پالیسي جوړونکی لیرلید ټاکي.

تیرو تاریخي پېښو د څېړنو لپاره موږ ته یوه دوه لاري پرېښې ده، چې یوه یې د غربي پیښو د اوډني منطق او بل هم د شرقي پیښو د اوډني منطق دی.

الف:غربي معاصر تحقیقاتي منطق، چې په معاصر تاریخي سیرکي د راتلونکو پیښو د رامنځته کیدو لپاره مخکې له مخکې لاس په کاردي، طرحې او پلانونه سنجوي او په اوږد مهال ډول خپل اهداف ټاکي.همدا لامل دی چې عقیدې او کلتور په پرتله یې د مدنیت، موډرن توب او ټکنالوژۍ لاس پراخ او په مادي برخه کې یې د معاصري نړۍ د رهبري کولو او په معاصرتاریخ کې د بحرانو او اقتصادي، صنعتي او تسلیحاتي لاسته راوړنو واګې په لاسو کي نیولي دي.

با: شرقي نړۍ د موډرنیت په پرتله په عقیده، فکر، کلتور او تاریخي سبقت پالني په پایله کې د نړۍ د بورجالینوس قبایلو غوندي د نړۍ د ملکیت، فرهنګ ساتني او په کُلي توګه د انساني هویت د ساتني په موخه طبعي سیرته دوام ورکړئ، چي د راتلونکو نسلونو سالمه بقا تضمینوي.

افغانستان هم د یادو تاریخي سیرو څخه دباندي هیواد نه دی، چې ولس دي یې د نړۍ له ملتونو څخه پرته ژوند وکړي، د خپل دې حق په ساتلو،دا هیواد هم د شرقي تاریخ یو ځلانده څپه ده، د قدیمي تاریخي بُعد یوه برخه ده، چې په دې سره یو شرقي هیواد بلل کیږي او د شرقیت د تثبیت په خاطر د موډرن فیشني مسیر په پرتله د خپل تېر تهذیب په ساتنه سره په مادي لحاظ د نړۍ د پس پاتو او معنوي لحاظ د نړۍ د سترو ملتونو څخه ګڼل کیږي.

د دې هیواد د ولس د فکري شؤناتو، عقیدتي التزامونو، ملي حوادثو، هر بچې حساس جوړ کړئ او روزلئ، تر څو پر وخت او زمان یې له مځکنی بشپړتیا، عقیدتي او ملی نوامسو ساتنه وکړي.

د افغانستان د قدیمي تاریخي آر موږته له (۵۰۰۰) کاله مخکې تاریخ څخه د منډیگک مانده، هډې فارم، باگرام، تخت رستم، تاریخي بامیان، د روزگان تاریخي ډیرلیک، د کندهار داشوکا کتیبې له تاریخي ابادیو اثارو څخه راښئي، موږ په دې مقاله کې د تاریخي شالید درالنډولو په خاطر چې د مقالې محراق ته داخل سو د هیواد د تاریخ د پیلامې یا پالیسي- جوړوني پر افعادو او دوره باندي دا مقاله را نغاړو ، ددې مقالې محراقې موضوع د افغانستان پالیسي- سازه دوره یا هوتکي دوره ده چې ددې مقالې په متن شرحه کې سوې ده.

د معاصر افغانستان جیو پولیتیک موقعیت او ابرقدرتونه

داسیمه په پخوانیو وختوکی د آریانا ویجه،افاغنه، آریا، خراسان په نومونو یاده سوې ده، په نړیواله او سزه توگه چې د سکندریانو له دورې نیولې سیمیز ابرقدرتونه وو چې کله کله به یې ددې سیمی(افغانستان) پر سربانددي د ډغر ازموینو یرغلونه وه ،افغانستان ددغو دایروي امپراطوریو ترمنځ یو جیویو لیتیکه منطقه وه ، چې هریوې امپراطوری د مرکزي آسیا پر زړه باندي د حکومت چلولو اراده کوله داسیمه به یې تر یرغل لاندي راوستله لکه په معاصر حاضر وخت کې چې دانگلیسي- ښکیلاک نیوي(۹۰) کلن اشغال، وروسته د(پخوانی شوروي اتحاد)۱۰کلن اشغال او بیا د امریکا متحده ایالاتونو تیر (۲۰) ا شغال دبیلگي په ډول یادولای سو.

افغانستان د امپراوطوریو تر منځ

د غزنوي، لودي او غوري پښتنو د پراخو امپراطورد برم او عظمت څخه د ډکو دورو تر تېولیدو وروسته هیواد په سیمه کې د یوه داسي ملک الطوائفي سیمي په توگه موجود وو، چې په شمال غرب کې د شیبانیانو، په غرب کې، صفویانو او جنوب او جنوب شرق کې د مغلو امپراطوریو گواښه.

د منطقوي خودمختاره حکومت له مخې د زابل د «شاه محمد کلاتوال» څخه پاته حکمراني او همداسي په لنډ زماني توپیر سره د شرقي او جنوب شرقي پښتونخوا په لمنه کې د مغلو په وړاندي د مبارزې ترځنگ د ایمل خان، دریا خان او روښانیانو

نهضتونه، چې افغانه سيمه يې په خود مختار ډول اداره کوله. دا اړتيا را منځته چې ددې هيواد منطقوي هويت د غزنوي، لودي او غوري واکمنيو په شان را ژوندی او د سياسي راضی پراخه داسي جغرافيه چې افغانان پخپله ددې سيمي د بيا مالکيت او سياسي حکومتولی په ډول سياسي بروز وکړي. اړتيا وه چې د ميرويس غوندي د مدبرو، ځيرکو، جرګه پالو او سياسي درايت او بصيرت په پلي کولو د يوه باثباته افغانستان تيوري او مفکوره د هغه په نسل کي داسي خپور کړي چې تر اوسه ځوان نسل په وياړي .

د افغانستان معاصر تاريخ

تاريخ پوهان او تاريخي مخکني پېښ منظرونه تاريخي دوره له پيله تر دې دمه د (مغارو، چودن، اوسپني) پر درو دورو وېشلې ده، د معاصر افغانستان د معاصر تاريخ موضوع دري پړاوه په برکي نيسي.

1. پاليسي جوړوونکي دوره
2. ستراتيژي جوړوونکي دوره
3. معاصره صنعتي دوره

پاليسي جوړوونکي دوره

دا دوره هوتکي دورې را پيل او په افغانستان کي د موډرن تاريخي مسير د هيواد تر قلمرو د باندي د افغانو زلمو وتل او د هيواد ګاوندی سيمي په برکي نيول وه ، چې د راتلونکي افغانستان لپاره يې د منظمي پاليسی تيوري له همدې وخته را پيل ده.

ددې دورې اساسي مخکښ د افغانستان نوموتۍ او ځيرک سياستمدار ملي قائد حاجي ميرويس خان وو. چې د بيلابيلو ميليتو مشران سره راغونډ او د څو جرګو په جريان کي يې د سيمو مشران لمړي ذهنا جوړ، بيا سره منسجم او د صفوي بلواکی په مقابل کي سياسي مبارزې ته چمتو کړل.

چې لاسته راوړنه يې د ملي حکومت ډېره ابنسوودنه او ځوانان يې د استثماري استعماري دسيسو په وړاندي ويښ او د حکومت په چم و پوهول.

د افغانستان د تاريخي حساس پړاو دغه دوره له ۱۷۰۷ - ۱۷۱۵ ميلادي دوره وه چې د اکمال لړی په اته کاله کي پوره سوه.

معاصره صنعتي دوره

د سکي یا افغانۍ د حکاکۍ لپاره چي تر هیواد دباندي یې رونق پیدا کړ، د هوتکي دورې ددرېیم واکمن شاه اشرف هوتکي د دورې فلزي سکي په ایران کي ضرب او د اشرفیو په نوم ونومول سوې ، ددې ترمخه د میرمحمود هوتک په دوره کي «زمبرک» تر اشرفي دورې را وروسته په احمد شاهي دوره کي «زمزمه» توپونو افغان ساخت جوړېدل ددې لامل سول په افغانستان کي صنعت د پخوا په پرتله پیاوړی او افغانستان خپل مسکوکات وي.

ستراتیژي جوړوونکې دوره:

دادوره چي د هوتکي دورې له پالیسۍ یې سرمشق اخیست د ستراتیژۍ جوړولو دوره وه چي د لوړ درشل احمد شاه ابدالي د دورې په نوم یادیږي. د ستراتیژۍ د ثلورگونو منابعو« بشري، مالي، فزیکي، تخصصي» ثخه عبارت دي تن ظیم او د معاصر افغانستان په نووني سره تشکیلاتي سیستم را منځته کیدل د مځکنۍپراختیا یې اساسي پایلي بولو.

هوتکي دوره

د افغان هیواد استقلال تر سوال لاندي وو، چي کله کله د شیبانیانو په پرتله به زیات د مغلو او صفویانو تر ن ظامي بریدونو لاندي راتلئ، په بل اړخ کي به دکلتوري یرغل ډېر نیرنگونه دلې پلي کېدل، نو دا اړتیا حس سوه، چي د وخت موجوده افغانستان له متزلزل حالته ووزي او په سیمه کي د متوازن سیاسي موقف په ساتنه داسي یو مستقیل دولت ولري، چي د صفوي،مغولي او شیباني امپراطوریو له جُغه خلاص وي.

د همدې خلاصون په موخه ملی قائد حاجي میرویس خان د خپل درایت په ښوولو سره د سیمي (شال، ږوب، زابلستان، غزني، دیره جاتو، غورجاتو، ختیځ سیستان، لوی کندهار) د مشرانو په اړیکو او راغوښتنه سره، په هنر د جرگو لاره خپله کړه او پدې سره یې په لمړي ځل خودارادیت را منځته او بیا یې د هیواد د آزادۍ اساس کښېښود.

د هوتکي دولت تر قلمرولاندي سيمي[1]

د نومـوړي او دهغـه دورور ميـر عبـدالعزيز تـر مړينــي وروسـته د هيـواد اراضي پراختيـا تـه د ميـرويس نيکـه زوی ميـر محمـود هوتـک مخـه کـړه. لانـدي سـمي يـې د افغانسـتان پـه قلمروکــي راوســتې «غزنــی ،زابــل، کنــدهار، هلمنــد، ارزګــان، فاريــاب ،هرات،سيســتان ، اصـفهان ،کرمـان ،مازنـداران، تهـران، قـم، سـاوه، قزوين،خوزسـتان، يـزد، جلفـا، خراسـان، کاشــان، ګلنابــاد، ګبرآبــاد ، ختــيځ عــراق (نيــزار) بنــدرعباس، هرمــز، ملتان،کوټــه، کاکړستان او وزيرستان».د مستقيل افغان دولت برخي ګرځولې.

دا مهـال د افغانـانو مسـتقل حکومـت رامنځتـه سـو. د افغانسـتان پـه معـاصر تـاريخ کـي دا دوره د معـــاصر افغانســـتان د جوړيـــدو پيلامـــه بللـــه کيـــږي ميـــرويس خـــان نيکـــه ۱۰۸۵ــــ۱۰۹۲ل   کـال هـوډ درلـود چـي د يـوه پـراخ او د نـړۍ پـه نقشـه کـي تـر هغـه وختـه چـي نـړۍ وي د آزاد افغانسـتان مځکنـۍ بشـپړتيا تثبيـت سي، چـي ددې کـار د تـر سره کولـو لپـاره يـې د سـتراتيژۍ پـه پرتلـه پاليسـۍ تـه تـرجيح ورکولـه چـي ددې هيـواد د اســتقلال او مځکنــۍ بشــپړتيا لپــاره جــوړه سي. نومــوړي د يــوې روښــنه پاليســۍ د را منځتـه کولـو لپـاره شـورا تـه تـرجيح ورکـړه او د هيـواد د پښـتنو، هـزاره وو، بلوڅـو او .... مخور يې وپوښتل او وې رغول.

د جرګې (شورا) اراکين

ميـرويس خـان پـه ډيـر هنريـت تـر جرګـو او مرکـو وروسـته وتوانيـد، چـي ديـوې پيـاوړي مـلي ترمينـالوژۍ پـه رامنځتـه کولـو سره، ملـت متحـد او د يـوې خـاصي ژمنـي پـه ترلاسـه کولـو سره د يـوه داسي نـظام اسـاس کنبـيږدي، چـي مشـابهت يـې لـه يـو نـاني د موکراسـۍ سره نـه، بلکـي پـه اسـلامي شـورا سره وسي د وخـت پـه غوښـتنه يـې د سـيمي مخور«سـيدال خـان نـاصر، بابوجـان بـابی، بهادرخـان مومنـد، پيرمحمـد ميـاجی، يوسـف خـان هوتـک، عزيـز خـان نـورزی، ګلخـان بـابړ، نورخـان بـړيڅ، نصرـو خـان الکـوزی، يحيـی خـان، محمـد خـان، حـاجی يـونس خـان کـاکړ او....» راټـول او د پريکنـده پريکـړه پـه کولـو يـې داسي يـو حکومـت تاسـيس کـړي، چـي شرعـي مشروعيت يـې د مـدينې منـوري د علـماؤ پـه فتـوا سره وو.

[1] Lee, Jonathan (2019). Afghanistan: A History from 1260 to the Present

د آزادي اقدام

لــه صــفوی دربــار شخــه د نـ ظر بنــدی تــر را خلاصــون وروســته هغــه پــه فرصــت سره پــه کنــدهار کــي داســی طرحــه جــوړه کــړه، چــي صــفوي حکومــت د وخــت والي«گــورگين خــان» د حــاجی یــو نــس کــاکړ پــه کــورکي میلمــه هلتــه د شــپې دشرابــو پــه ورکــړه تــر نشــې او بې هوشه کیدو وروسته منځه داسي یو سي .

د گورگين له منځه وړلو طرحه

ځوانـانو تـه تـر(۲)مـتره پـه اوږدو لرگیـو پـه پـای کـي وچ «کـډوان» ور وځـړوي، د شـپې پـه تیـاره کـي د بریـد پـر مهـال افغـان ځوانـان د دغـو لرگیـو او کـډوانو پـه پېژندنـه سره د گـورگين لـه عسکرو بېـل او پـدې شـپه نیـو عملیـاتو کـي لـه منځـه ولاړ نسي-، چـي گـورگين او ورسره نفـره يـې نشـه کیـږي افغـان زلمـي د شـپې پـه تیـاره کـي د پردیـو او افغانـانو تـر مـنځ د تـوپیر لپـاره داسي شـکل رامنځتـه کیـږي چـي کـه افغـاني ځوانـان د لرگـي سر نیسي- نـو تـر کـډوبري بـه لاس ورغځـوی او هلتـه بـه دلرگـي نیـوونکي لاس نیسي- چـي پـه دې سره افغان جنگيالي د گورگين له جنگيالو بیلیږي.

د حاجي میرویس خان د واک ساحه

د گــورگين پــه دې مړینــه سره نــور پــه ســیمه کــي د ایــراني ســلطې شخــه واک یــو مــلي حکومـت تـه پـه لاس ورغـئ، چـي هغـه د یـو پاچـا پـه توگـه نـه بلکـي، د یـوه مـلي زعـیم پـه توگـه راڅرگنـد سـو نومـوړي چـي(۸) کالـه حکمـراني وکـړه پـه دولـت کـي يـې (شـنډنډ، فـراه، سیسـتان، پښـین، سـلیمان غرجنوبـاً او شـمالاً تـر غـزني پـوري) پـر سـیمو حکومـت کـاوه.د گــورگين د مړینــي د غــچ اخیســتني او مخکنــي مقبوضــه افغانســتان د بیرتــه تــر لاســه کیـدو پـه منـ ظور د صـفوي دولـت لـه لـوري د افغانسـتان د وخـت پـر پلازمینـه کنـدهار او شـا خـوا سـیمو بانـدي سـخت بریدونـه وسـول، چـي د افغـانو مېړنیـو پـه مـټ پـر شـاه سـول او د هیـواد اسـتقلال وسـاتل سـو .هغـه چـي د سـیمی دننـی او د بانـدنی برخـي يــې پــه ښــه ســیاسي شــعور مطالعــه کــړي وې، د یــوه ښــه نامــه پــه پریښــوولو سره تــر ۱۰۹۲لمریــز کــال پــوري، چــي د ۱۱۲۷هجــري قمــري کــال د (ذی الحجة)میاشــتي تــر ۲۸سره برابر وو ، حکومت وکړ او په یاده نیټه يې د اجل داعي ته لبیک ووایه.

سیمیزو مطالعاتو ته په کتو سره، د مځکي د کرې پر منځنۍ صفري خط پر مستوي اسیایي سیمه باندي د درو «مغولي، صفوي او شیباني» امپراطوریو تر منځ ددې سیمي د سیاسي واکونو تر منځ د معاصر افغانستان جنوبي پولي ازادي او تل به ددوی دیرغلونو په وړاندي په مقاومت بوخت وې، د ن ظر بندۍ پر مهال په صفوي دربار کي د لوړو رتبه اراکینو سره د میرویس خان اړیکي او د کندهار پر گرجي واکمن د هغوی بد گمانه کول، په بل فرصت سره په صفوي دربار کي د زیات تشریفاتي او اشرافي ژوند موجودیت، د امپراطوري پراختیا د نه پلان لرل او د یادي امپراطورۍ د پوځ سړه وضعه، ددې تر څنگ د مغولو دربار ته د میرویس خان له خوا د «حاجي امکو» لیږل له هغوی سره مناسبات را منځته کول، هغوی د کندهار د ازادۍ په مورد د ایران پرطرف د جدي موقف نیول مغولي واکمنو توجه بل لوري ته جلبول، د حج د اداینې پر مهال د صفوي واکمن په وړاندي د مدینې منوري د علماؤ فتوا اخیستل ددې لامل سول، چي هوتکیان د امپراطورۍ په تاسیس سره د افغانانو په ملاتړ سیاسي پولي تغیر کړي.

د کندهار، فراه، سیستان، کرمان، مازندران، اصفهان د خلیج فارس پولي د صفوي امپراطورۍ څخه او په جنوب شرق کي تر دیره جاتو «دیره غازي خان، دیره اسمعیل خان» بنو، وزیرستان سیمي له مغولي امپراطورۍ څخه جلا او په افغان دولت «غزني، زابل، کندهار فراه» پوري وتړي.او افغانه سیاسي جغرافیه تثبیت سي. ولي د هیواد په شمال شرق د شیباني واکمنو په وړاندي لا پر دې استقامت کومه لښکر کشيـ ونه سوه، هرات د ابدالیانو په مشرتوب او خاني د هوتکي دولت او شیباني واکمنو تر منځ د Buffer zona یا مصؤني سیمي په جغرافیه کي پاته سو، خو د شاه اشرف هوتکي د واکمنۍ پر مهال په اذربایجان کي تسلیحات نوښت او جگړې دا سیمه هم څه موده د هوتکي دولت په قلمرو کي را وسته.

دا مهال د اراضي د پراختیا په لحاظ مغولي امپراطوري، د جنگي او مخ په وړاندي پراختیا درلودونکي مورال سره هوتکي او په ضعف کي واقع وه ددې ترڅنگ د روسیې د گواښونو تر تاثیر لاندي شیباني واکمني وه چي په سیمه کي موجودي وې.دې دواړو امپراطوریو د خپلو ضعفونو له اسیته دې زړه نه کړ چي د صفوي

امپـراورۍ سره پـه ائـتلافي ډول د هـوتکي افغـان حکومـت د پراختيـا پـه مخکـي خنـډ سي.

میرعبدالعزیزهوتک ۱۰۹۲ـــ۱۰۹۳ ل

د ملـی قايـد ميـرويس خـان تـر وفـات (۲۸ذالحجـة الحـرام ۱۱۲۷) ه قمـري ، وروسـته د وخـت د دربايـانو پـه غوښـتنه د هغـه ورور «ميـر عبـدالعزيز هوتـک» واک تـر لاسـه کـړ. پـه طبعـه نـرم ميـر عبـدالعزيز ونسـواى کـړاى، چـي د تـوري تـر ځوکـه لانـدي هغـه لاره غـوره کـړي، چـي ميـرويس خـان هوتـک د دې هيـواد لپـاره ټـاکلې وه. ميرعبـدالعزيز د خپـل سـیاسي ليرليـد لـه مخـي دا لازمـه بللـه، چـي هيـواد پـه د باندنۍ برخـه کـي د يـو بـل مـادي ابـر قـدرت تـر سـيوري لانـدي او د هيـواد دننـه افغـان حکومـت خـپلي چـاري پـه خـود مختـاره توګـه پـر مـخ بـوزي، چـي دې کـړني سره پـه سـيمه کـي د اراضي سیاسـت پـه لحـاظ د هيـواد پلازمينـه (کنـدهار) د ايـران جغرافيـايی سياسـی نفـوذ اسـتيلا تـه زمينه برابروله.

خـو د خـان دکـورنۍ نـورو غـړو ترځنـګ د افغانسـتان تقريبـا (۴۰۰۰) تنـو نخبـه ګـانو نـه غوښـتل، چـي دا پاليسيـ د پخوانيـو ضـعيفو پاليسـيو غونـدي بيـا تکـرار او هيـواد پـه خوارځـواکي حالـت کـي پاتـه سي. دا مهـال وو چـي ميـر عبـدالعزيز پـه(۱۱۲۹) هجـري قمري د نارنج کلا له بامه را واچول سو او مړ سو.

شهنشاه محمود هوتکي ۱۰۹۴ــ ۱۰۹۹ لمريز(۱۱۲۹ـــ۱۱۳۴)ه ق

د سـوري پښـتنو د برمـه ډکـي دورې تـر خـتم وروسـته چـي پخپلـو وختونـو کـي د پـام وړ افتخـارات درلـودل پـه ټپـه دربـدلۍ حالـت او بـابري امپراطـورۍ پـه رامنځتـه کيـدو سره نـور د افغـاني امپراطـورۍ د جوړيـدو تعبيـر لـه پامـه ولوېـد،چي د افغانـانو تيـر عظمـت يـې را ژوندی کړۍ وای.

د هـوتکي دورې منځتـه تـه راتـګ پـه ځـانګړې توګـه د شـاه محمـود هـوتکي د افغانسـتان د واک پـه تـر لاسـه کولـو، ددې هيـواد ځـوان نسـل يـو ځـل بيـا د دې جوګـه سـو، چـي پـه سـيمه کـي نـوی دولـت تشـکيل او پـه دې سره نـه يـوازي د صـفوي او مغـولي دربـارونو سره د لاس پنجـه نرمـه کـړي، بلکـي د دوو نـورو لويـو مـادي ابـر قـدرتونو (تـزاري روسـيې او عثماني خلافت) تر پولو ددې هيواد مځکني بشپړتيا یې پراخه کړه.

پـر همـدې بنسـټ د میرعبـدالعزیز تـر مړینــي وروسـته د ملـی قائـد میـرویس خـان مشرـ زوی میرمحمـود (شـاه محمـود هوتـک) د افغانسـتان پاچـا او د قـدرت واگـي پـه لاس کـي و نیـولې نومـوړي پـه کنـدهار کـي تـر پـوځي اسـتحکام او د هیـواد پلازمینــي «کنـدهار» کـي د دولتـی نـ ظام تـر پیاوړتیـا وروسـته پـه (۱۰۹۹) لمریـز کـال دکنـدهار اداره خپـل کشرـ ورور شـاه حسـین هوتـک تـه پرېښـووله او د پـلار د وصـیت لـه مخـي، چـي د زکنـدن پر وخت یې د (اصفهان ونیسئ) په پیغام د ایران د نیولو نیت وکړ.

میـر محمـود، چـي دا مهـال یـې پـه خپـل لښـکر کـي د شـاه اشرف هـوتکي، او سـیدال خـان «نـاصر» پـه شـمول پیـاوړي افسـران ملگـري وه.د فـراه او سیسـتان لـه لـوري د ایـران پـر کرمـان ولایـت بریـد وکـړ. تـر بریـد او د کرمـان لـه حـاکم سره تـر جـوړي وروسـته بیرتـه کندهار ته راستون سو   .

د اصفهان محاصره

میرمحمـود د خپلـو جواسیسـو پـه مرسـته پـر لـه پسـې د ایـراني صـفوي دربـار پـه غیـره کـي د پـراخ اداري فسـاد او دربـاري غـړو د نـه هماهنگــۍ رپوټونـه تـر لاسـه کـول همـدا لامـل وو، چي له دې فرصت څخه په استفاده د اصفهان د نیولو اراده یې وکړه.

د ۱۰۹۹ لمریـز کـال د حـوت پـه اواخـرو کـي یـې اصـفهان محـاصره کـړ. تـر څـو میاشـتي محـاصري او سـلطان حسـین صـفوي د مقاومـت وروسـته، کلـه چـي صـفوی شـاه حسـین خپـل دریـیم زوی طهماسـب مـرزا لـه ۱۰۰۰تنـو سرتیـرو سره د پریکنـده جنـگ لپـاره د شـاه محمـود پـه وړانـدي قومنـده کـړ هغـه ددې پـه عـوض، لـه اصـفهانه سـاتنه وکـړي د خپـل یـاد سـوي ۱۰۰۰کسـیز پـوځ سره د (قزوین)پـر لـور مخـه کـړه. دې کـړني او پـر اصـفهان د اتـه میاشـتنۍ محـاصرې لـه وجهـي سـختي قحطـۍ د صـفوي واکمـن سـلطان حسین صفوي روحیه کمزورې او اړ سو چي میر محمود ته د ایران سلطنت وسپاري.

د ایـراني واکمـن د قـدرت سـپارني وروسـته شـاه محمـود د تـاریخ پـه لیکـو کـي پـدې خـاطر د (شهنشـاه) پـه نـوم ونومـول سـو، چـي تـر خپـل هیـواد د بانـدي سـیمي یـې د اصـفهان او کرمـان پـه شـمول یـې د ایـران ډیـري سـیمي د افغانسـتان پـه قلمـرو کـي شـاملي او د افغانستان پلازمېنه وټاکل سوه.

شاه محمود هوتکي د اصفهان تر نيولو وروسته پر ټولو قحطي ځپلو خلکو غله دانه(غنم) وويشل، تر دې وروسته يې د ايران پوځ ټول هغه افسران او نظامي چارواکي يې را وغوښتل چې د صفوي شاه حسين په نظام کي يې دندي درلودې.

هغه ټول هغه افسران چي د اصفهان د محاصرې پر مهال يې د شاه محمود هوتک سره مرستي او جاسوسی يې کړي او يايي له مقاومت لاس اخيستئ وو، پدې نامه، چي د خپل ايراني دولت سره مو جفا کړې زموږ سره به څه وکړئ؟

تر تيغ تير کړل او ټول هغه پوځي افسران دچي اصفهان د محاصرې پرمهال يې د شاه محمود او افغانانو په وړاندي جنګېدلي د مکافاتو ورکولو تر څنګ پر پخوانيو پوستونو پردندو وګمارل.

دا وخت د کندهار په غرب کي د هرات ابداليان حاکم وه، هغوي د خپل منځي شخړو له امله ونسواى کړاى چي د شاه حسين صفوى او بيا وروسته د شاه محمود هوتک پر قلمرو باندي بريد وکړي.

د شاه محمود تر مړيني وروسته د ابداليانو مشرـ (محمد خان ابدالي) د هرات او شاه خواسيمو حکمراني په لاس کي واخيسته، چي پدې سره په هرات کي ابداليانو همزمانه خود مختاره واکمني پر هرات درلوده .

شا محمود هوتک پخپله دوره کي پر آرامه نه کښنستی هغه د افغان هيواد دپراختيا لپاره د پياوړو سپه سالارانو(پيرمحمد مياجي، محمود خان، سيدال خان ناصر، عبدالله بلوڅ) په مرسته لښکرکشی وکړې، چي وروسته د عصبي تمرکز د ګډوډی او پر ځان د نه کنټرول له امله تقريباً تر دوه کلن رنځ وروسته په ۱۱۰۴ل کال چي له(۱۱۳۸) سره مصادف دی د اصفهان په زندان کي مړ سو.

شاه اشرف هوتک ۱۱۰۴ـ۱۱۰۷ لمريز

واک ته په رسيدو سره شاه اشرف مناسب فرصتونه په واک کي درلودل، هغه له دغو فرصتونو، خپل درايت، سياسي حليم او متين نبوغ په درلودلو سره افغاني هويت ته نوي ځلا وکړه، شاه اشرف د محمود غوندي سيدال خان ناصر د پوځ دلوی سپه سالار (لوی درستيز) په توګه په دنده و ګماره. شاه اشرف په ايران کي د افغانانو

دحکومت دننه هغه سوړ والی چې د شاه محمود د رنځ او مړینې پر مهال را منځته سوئ وو.

پر هرات د ابدالیانو برید

په هرات کې لا د ابدالیانو واکمني وه، کله چې شاه اشرف په اصفهان کې واک تر لاسه کړ همدا مهال دهرات ابدالیانو د محمد خان په مشرۍ د مشهد د نیولو اراده وکړه، خو محمد خان ونتوانېد چې نوموړې سیمه لاندې کړي دا مهال د هرات خلگو د نوموړي په وړاندې بغاوت وکړ. محمد خان یې د هرات له حکمرانۍ گوښه او پر ځای یې د زمان خان ابدالي زوی ذوالفقار خان ته واک وسپاره.

له عثماني خلافت سره د هوتکي دولت برخورد

شاه اشرف هوتک د عثماني خلافت سره لښکرو په (۱۱۳۹)هجري قمري د برات پر (۱۲) نیټه،د (۱۱۰۵) لمریز کال سره مصادف د مخامخ کیدو ، ټکر رامنځته کیدو او تر کانو تر ماتي وروسته د اسلامي او حنفي مذهبي توب په خاطر نور پر مختگ ته دوام ورنکړ. همدا لامل وو ، چې وروسته په ایران کې د افغانانو واکمني دتُرکي دولت لخوا په رسمیت وپیژندل سوه. تُرکي خلیفه دریم سلطان احمد په ۱۱۰۸لمریز کال خپل یو نمائنده هوتکي دربار ته دسفیر په توگه را ولیږه.

له تزاري روس سره د هوتکي دولت ستونزه

دا وخت وو، چې تزاري روسانو پر افغاني شمال غرب سرحدونو (آذربایجان) برید وکړ شاه اشرف هوتک په پوره همت د روسانو د بریدونو مخه ونیوله او روسی امپراطور «پیټرکبیر» دې ته اړ سو چې اذربایجان له سیمي شاتگ وکړي.

د شاه اشرف لپاره د سرخوږي پیل

پدې وخت کې ایراني نادرشاه افشار د ایران په خاوره کې د افغان دولت په وړاندي په اپارتیزاني او بیا وروسته په جبهئي پاځونو نو لاس پوري، سره تر دې چې روسانو د ازربایجان په سیمه کې دا مهال مخامخ مداخله نه کوله، خو د روسانو د ممکنه برید په خاطر د شا اشرف پوځ د عسکرو د کمې له اسیته دا بسنه نسوای کولای چې په دوو جبهو کې وجنگیږي.تمه وه چې له کندهاره به نور کومکي پوځ را ورسیږي، خو د

کـومکي پـوځ نـه رسـیدل ، نادرشـاه افشـار او د روسـانو د فشـارونو پـه پایلـه کـي د شـاه اشرف پـوځ خوارځـواکی سـو. دې خوارځـواکۍ یـو پـه بـل پسيـ د شـاه اشرف حوصلـه ختمـه او تـر پنځـه نـیم کالـه حکمرانـۍ وروسـته بیرتـه دکنـدهار پـر لـور را رهـي سـو. نومـوړی د هلمنـد دگرمسـیر سـیمي پـه ملخـان کـلا کـي تـر اړولـو وروسـته د زرد کـوه پـر لـور مخـه کـړه ، چـي هلتـه د ابـراهیم بلـوڅ لخـوا پـه ۱۱۴۲ هجـري قمـري (۱۱۰۷) لمریـز کال ووژل سو.

دهو تکي دورې اسلاف

افغانـان پـدې بـاوردي چـي د ملـت پـه ټولـو تـاریخي پېرونـو کي دوی د خپلـو ټولـو نواموسـو څخـه د وس تربریـده سـاتنه کـړې، چـي خـپلي مـلي وثیقـې د هغـوی د درنښـت او پایښـت پـه مـو خـه ژونـدی وسـاتي او د تـاریخ لـه توروتمنـو یـې را وبـاسي پـدې اړونـد هـره تاریخي دوره ځانته ویاړني او ژغورني لري.

پـه تېـرو دورو کي د نـورو دورو پـه پرتلـه د هـوتکي دورې ویـاړني پـه بېلابېلـو عرصـو کي دیـادوني وړ دي. پـه هـوتکي دربـار کي پښـتني قصـېده سرایـان وروزل سـول، دډېـرو نایـابو تېـرو پښـتني اثـارو او د هغـوي د ناپېژنـدل سـویو مؤلفینـو او لیکوالانـو را پېژنـدل د پټـې خـزاني پـه تـاثیقي روایـاتو سره را وړانـدي او تـر ننـه پښـتني اصـیل فرهنـگ تـه یـې د پاتـه والي زمینـه برابـره کړېـده. ددې ټـولگي مولـف چـي پخپلـه دده پـه وینـاپـه دربـار کي کاتـب الحـروف یـا فرهنگـي سرغنـه پاتـه سـوئ دئ . پـه هغـه وخـت کي یـوازي د هـوتکي دورې کنـدهاري ښـاري اسـتوگنان پـه کـوهکران او زاړه ښـاریا ((پخـوانۍ اسـکندریه)) کي اوسېدل .

د نومـوړې دورې پـه لـړکي محمـد هوتـك بـن داؤد د پټـې خزانـې لـه یـو لـړ معـاصرو او کتـابتي مهـارت او ورتیـاو پـه لـړکي د هغـې دوهـم پـړاوو هغـو اسـلافو او مېړنـو تـه ځـانگړې کـړئ دئ، چـي د نومـوړي دورې پـه لـړ کي پـه ، عقیـدتي ،سـیاسي ، ن ظامي او فرهنگـي خلگـو کي مطـرح کسـان وه چـي شـمېره یـې نـژدې (۷۷ تنـو تـه رسـېږي) خـو د پټـې خزانـې پـه مـتن کـي څـه کسـان پاتـه وه چـي پـه مسـتقیم روایـت کـي یـې دوه یـادرې پاتـه سوي کسان د بېلگي په توگه په لنډ ډول بیانوو :

- دهـو تـکي دورې يـو تـن معـاصر چـي پـه پټـه خزانـه کي او نـور پاتـه سـوو تـاريخي اثـارو کي يـې يادونـه نـده سـوې «ابـو عبـدالرزاق ابـن عطاءاللـه» نومـوړی د «فردوسي شهنامه» په نامه کتاب تر پنځو زرو په زياتو بيتونو کي ليکلې

- نـورين :لـه نورينـو مـراد يـو ميـا نـور محمـد نـورزي، دکنـدهار ښـار جنـوب پلـو تـه پـه مالـه جـات کي دده بـاغ فرقـې تـه څيرمـه يـې زيـارت دي د نومـوړي ميـا نـور محمـد نـورزي وقـبر تـه د وختنـو را پـدې دي خـوا يـوه منـاره مـو جـوده وه چـي دروانـي شلمي پېـړۍ پـه شـپږمه لسـيزه کي د شـوروي يـر غـل پـر مهـال دماله جـات پـه لويـه قـوه کي د ذاکـر شريـف لـه غونـډي څخـه د زريـدار روسي Tank پـه مرمـۍ وويشتل او نړوله سوه.

- لـه نورينـو څخـه دوهـم نـور ميـانور محمـد داوي، دکنـدهار ښـار پـه شرقـي پلـو کي ډامبر پـر غـاړه د مـانجې سـيمي تـه څېرمـه پـروت زيـارت لـري نومـوړي هـم د نانـا صـاحب د مخلصـانوڅخه دي د نومـوړي پـر مـزار مخـکي يـوه پخـوانۍ تـاريخي وداني ودانـه وه دنومـوړي د مړينـې يـې و قـبر سر تـه پـر ولاړه شـنخته دا سي ليکلـې ده ((وفـات مرحـوم مـلا نـور محمـد اخنـد داوي ولـد شـهاب الـدين في سـنه (۱۲۰۷) ق م

- عبدالحميـد ذاکـري دکنـدهار ښـار جنـوب شرق پلـو تـه پـه لـس کلـو مـترۍ کي د ذاکـر شريـف پـه نـوم کـلي کي د صـاحبزاده خيلـو هوتکـو د هـديرې پـه مـاجرکي پـروت دی ددې قصـيدي لـه ليکـو ښـکاري چـي تـر نورينـو وروسـته يـې د نقشبندېې طريقې د خلافت چاري تر غاړه وې

- د هـوتکي دورې دپـا پـه وختونـو او د احمـد شـاهي دورې پـه لولـه دوره کي يـو بـل کـس سـليمان اخنـدزاده دی چـي پـه تـاريخي روايـاتو کي د «اسـتاد کـل بـلاد احمـد شـاهي» پـه نـوم يـاد سـوي سره تـر دې چـي لاس نيـوي يـې پـه نقشـبنديه طريقـه کي د ميـا عبـدالحکيم (رح) لـه ښـاخ سره کـړئ د نـورو اړو طريقـو(قـادريې ، چشتيې) خليفه توب يې هم در لودلی دي

دهوتکي دورې عروج او زوال عوامل

د اولـس او خلگـو د عقيـدوي او کلتـوري مسـائلو سره بلـدتيا او پخپلـه پـه دې ملـت کـي را لويېـدل، د هغـوی پـه مـنځ کـي ژونـد او د تجـارت او سـودا ګـرۍ پـه برخـه کـي د سـيمي د

وطنونـو او هيوادونـو ثخـه لیدنـه، دسـيميزو علـماؤ زده کـړه او د يـوه سـودا گـر او تجـار پلار تر روزنه لاندي د ميرويس خان هوتک د برلاسۍ عوامل سول.

پيـاوړي ټکـي: هغـوی د يـوه داسي افغـاني دولـت بنسـټ کښېښـود هيـواد پـر څلـورو اطرافـو د را گرځېـدلو امپراطوريـو ځـانونو تـه گـواښ احسـاس کـړي، د ميـرويس خـان سـياسي درايـت ددې سـبب وو چـي د سـيمي واکمنـان پـه هغـه بـاور وکـړي او دی بيـا د خپـل هيواد دازادۍ لپاره لاس په کار سي.

د سيمي پـه همسـايه هيوادونـو تـه سـفرونه او اشـنايي او بيـا لـه هغـو ثخـه پـه اسـتفاده پـه سـيمه او دربـارونو کـي د نفـوذ پـه خپلولـو او شـاهي دربـارونو تـه د لار پيـدا کولـو وروسـته هغـه دسياسـت ډگـر تـه را داخـل او پـه ډيـر هـنر يـې د ملـي حکومـت بنسـټ ايښـودنه. يـې پيـاوړي ټکـي بلـل کيـږي کـه مبالغـه نـه وي نـو بايـد اضـافه سي د ميـرويس خـان د پاليسـۍ کـاپي وه چـي وروسـته پـه افغانسـتان او برصـغير سـيمه کـي د اسـتعماري اهـدافو دپـلي کولـو پـه خـاطر انگليسيـ او فرانسـوي امپراطـوري جوړونکـو پـه دې سـيمه کـي پـه يـوه اړخ کـي قـومي مشـران، او راجـه گـان خپـل لمـړی پيـل کـي د سـودا او تجـارت کـار او بـار او بيـا دا پـه نـ ظامي اشـغال سره واووښـت او د انگليسـيانو د داډول پاليسـۍ پـه وړانـدي فرانسـوي انقـلاب بيـا د صـنعت د پراختيـا او هنـدي اتـل ټيپـو سـلطان د خپلولـو په خاطر دا سيمه تر خپل اشغال لاندي کوله.

د ميـرويس خـان نيکـه د لـوړو مواصـفاتو پـه شـمول، د هغـه د زوی ميـر محمـود پريکنـده او تنـد مـزاج او پـه نـ ظامي تـاکتيکونو پـوه طبـع او مـنظم مهـالويش، او نـ ظامي صـنعتي برخـه کـي پـه لمـړي ځـل» د «زمبـورک» تـوپ جوړېـدل د هـوتکي دولـت پـه پراختيـا کـي نـړۍ وال ريکـارډ ټينـگ کـړ. ور سره پـه سياسـت او سـړه سـينه حکومـت کولـو پـه د هغـه د وراره شـا اشرف هـوتکي ځيرکتيـا ددې لامـل وه، چـي پـه لمـړي ځـل عـثماني خلافـت پـه خپـل مسـلمان گاونـډ کـي د يـو «سُـني» هيـواد مسـتقله سـيمه پـه رسـميت پيژندنـه او د دواړو هيوادونو تر منځ د «تړون» لاسليک.

پـه لمـړي ځـل د «اشرفـی» پـه نـوم نـوې افغانـه سـکه تـر هيـواد دبانـدي پـه افغـان هويـت سره خپـره او وچليـږي، د کلتـور ادبيـاتو او افغـان دربـار د ملـت اکـثرت پښـتو ژبي دفـتر داري او قصيده سرائي خپره او په فرهنگي برخو کي پراختيا را منځته سي.

ضعیف ټکي :

- په منطقوي او سیمیز ډول د ځوانانو جنګیالیو موجودیت خو د هوتکي دولت تر منځته را تګ د مخه او د میرویس خان هوتګ د مشرتابه تر ختمه پوري په مکرر ډول د پوځ او ځوانانو نه روزنه.

- د ښه فرصت څخه اعظمي ګټه نه اخیستنه او د میرویس خان تر مړیني وروسته د اکا، وریرو، او اکا د زامنو تر منځ د اقتدار او انتقام اخیستني لامله او کورني اختلافات.

- د سیمي د هیوادونو له خوا په غیر مستقیم ډول قومي او قبیلوي اختلافاتو ته لمنه وهنه.

د هوتکي دورې سقوط

د کندهار د سقوط سره سم یې سیدال (ناصر) او نور پوځی مشران ونیول او دګلخان سهاك په مشرۍ په شهادت رسېدلي وه چي البته دقومندې برج یې د ډېډی برج ؤ مقاومت یې پداسي حالت کي ختم سو چي نادر افشار کندهار ونیوځ او په ورانولو یې پیل وکړ ښار یې، تر چور وروسته ویران ، دوطن ټول سپینږري یې د مزدورانو غوندي پر کار وګمارل د زاړه ښار په ختیځ لوري کي یې د نادر اباد په نوم دیو ښار ګوټي بنسټ کښېښود دا چي نوموړي ددې سیمي د ایل کېدو څښتن نسو او بیرته یې خپل هیواد ته دتګ اراده ودرلودله دکنډوالهـــ کنډواله ښار تر څنګ یې خپل تر سره کېدونکي ښار نادراباد هم پوره نکړ چي یواز یې د ښېر سرخ با با د زیارت سیمه ور ځیني پاته سوله.

پایله

نتیجه دا اخلو چي د معاصرافغانستان د جوړښت هغه تیوري چي د اوسني افغانستان دهویت مدارک په لاس راکوي په هوتکي دوري په تړاو پیداکوي چي تر دا مهال مخه زموږ سیمي د شیباني، مغولي او صفوي امپراطوریو د نیابتي جګړو د ډګر حیثیت درلود، دا هوتکي دوره چي دیوې لیردونکي پالیسۍ لپاره یې اساسي ګام پورته کړ ، او بیا په لږه موده کي د ستر افغانستان پراختیا ته لوړ درشل احمد دراني د پای ټکي کښیښود.

په درنښت

نوراحمد قران مل

کندهار پوهنتون د علمي څېړنو معاونيت